شاه محمود مستمند تاریخ 21/05/2009

# دپښتونستان د ازادي مقدسه جګړه

**که په روغه مو مرام تر سره نه شه**
**بیا نو ټینګ شه د پښتون د توري شرنګ ته**

که د لرغوي او پیاوړي افغانستان تاریخ ته که په ځیر سره وکتل شي نو دا خبره ثابته ده چه د ظلم او ظالم پر ضد او د وطن د دښمنانو په وړاندي د مقدس جهاد غږ تر ټولو لوموړي زړه ورو او په د ین او ناموس مینو ملایانو پورته کړیدي.همدا وجه ده چه نن عملاً په کوزه پښتونخواکي د استقلال او ازادي جګړه په زیات خوند او رنګ سره پیل ده.
د پنجاب ګوډاګي رژیم او د جهاني ویني زبیښونکي امپریالیزم ډار له همدي وجي زیات شویدي چه په بره پښتونخوا (افغانستان) کي هم همدا جهادي تنظیمونه ول چه د جهاني کمونیستي سوپر پاور پر وړاندي یي په میرانه سره مقابله وکړه او هغه یي په ګونډو کړ او ټول جهان یي لدي ناولي مرض څخه خلاص کړ.
که له یوي خوا دنړي ویني څبېښونکي او خونړي امپریالیزم ،اوله بلي خوا د پنجاب کاغذي زمریان دي ازادي بښونکي او نه سترې کیدونکي مبارزي ته د تروریستانو او القاعده نام ورکوي،خو له بلي خوا په عمل کي داثابته شوه چه که چیري دا تروریستان او القاعده واي نو به هغه د پاکستاني ستراتیژي پر اساس د آي – ایس – آي لخوا تر چتر لاندي واي نه تر درنو ځمکني او هوایي بریدونو لاندي.
تروریستان هغه څوک دي چه هغه د پنجاب تر امر لاندي د ډیورند له ناولي او لعنتي خط څخه را تیریږي او د مقدس جهاد په نامه افغان ورونه او خوندي وژني .
هغه څوک چه هغه په ډیره ګرمه ،بي ساري، مستانه او ډیره درنه او تاریخي جګړه کي د خاوري او ناموس له دښمن سره د خداي د ستر نام(ا لله اکبر) په نامه له پنجابي دښمن سره په سر شیندنو بوخت دي ترڅو هغه له خپلي مقدسي خاوري وباسي او ددي درني جګړي په نتیجه کي په ملیونو انسانانو هجرت وکړ او په زر ګونو د ازادي جنګیالان وژل شوي دي ، نویوازي د ازادي دښمنان هغوي ته دتروریستانوخطاب کوي..
اوس نو چه د تروریست تعریف او پیژندنه وشوه نو دا لازمه ده چه د خاوري او ناموس د ازادیجنګیالانوته د خاین او تروریست خطاب ونشي او که څوک د خاوري او ناموس د ازادي مبارزینو ته د ترورست خطاب وکړي په عمل کي هغه ته باید د پنجاب د اجنت خطاب وشي.
پرون چه د شوروي اشغالګرانو په وړاندي مقدسه جګړه او جهاد روا وه، اما نن په کوم دلیل د پښتونستان له پاکي خاوري نه د پنجابي اشغالګرانو په وړاندي جګړه مقدسه نده او تروریستي ده؟
له یوي خوا د پنجابي اشغالګرو وارخطایي او له بلي خوا د جهاني امپریالیزم ډار او د هغوي وړاند وینه داثابتوي چه اوسني مسته جګړه د لري پښتونخوا د تاریخي ارمانو د تر لاسه کولو جګړه ده ترڅو له خپلي پاکي خاوري څخه پنجابي اشغالګر وباسي او خپل تاریخي پښتونستان د نړي د نورو ازادو هیوادونو په قطار کي ودروي.
دهغه لپاره یو عملي دلیل دادي چه مرحوم خان عبد الغفار خان چه د عدم تشدد د لیاري رهبر وه او هغه په عمل کي نه غوښتل چه د پښتونستان د ازادي ونه د پښتانه په وینو وده وکي او میوي ته کښیني نو ځکه هغه ازادي تر لاسه نه کړه او دمرګ په وخت یي وصیت وکړ چه د هغه جسد باید په ازاده خاوره کي خښ شي نه تراستعمار لاندی خاوره کي.
دي زړي فلسفي په تیرو 60 کالو کي کومه مثبته نتیجه په پښتونخوا کي ورنکړه او پښتون ولس د پنجاب غلام او مریي په شان وساتل شو له ټولو خدایي او طبعي حقوقو څخه محروم شول او حتي په هغه ناولي او مصنوعي هیواد کي ورته چا د پښتانه په نوم او سترګه ونه کتل، نو هغه وه چه پښتون ولس توري ته لاس کړاو دا ناره یي پورته کړه چه:
که په روغه مو مرام تر سره نه شه
بیا نو ټینګ شه د پشتون د توري شرنګ ته
که پرون افغانانو وکولای شول چه سور شوروي سوپر پاور مات کړي نو دا هم ثابته ده چه لري پښتونخوا به هم په خپل ټینګه اراده او میرانه سره دنوي سوپر پاور دګوډاګي هیواد پنجاب به هم د پرون شوروي سوپر پاور په شان داسي دړي وړي او ټوټه کړي چه امریکایي بادار به یی هم بیا ونه پیژني چه زما پنجابي یار چیرته ورک شوه.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.



*** * سقوط حکومت پاکستان تا شش ماه آینده! -**
*** * پاکستان در شش ماه آینده سقوط خواهد کرد!!!!!!**

**...پاکستان 173 میلیون نفر جمعیت و صد کلاهك هسته‌اي دارد و ارتش این کشور از ارتش آمریکا بزرگـتر است و القاعده کنترول دو سوم این کشور را در اختیار دارد....**
**<u>شبکه اطلاع رسانی افغانستان</u>**

دیوید کیلکولن، مشاور ارشد فرمانده نیروهاي آمریکایي در خاورمیانه ادعا کرد که حکومت پاکستان در شش ماه آینده سقوط خواهد کرد.
به گزارش فارس نیوز، کیلکولن مشاور ارشد وزارت دفاع ایالات متحده، انگلستان، استرالیا و همچنین ناتو ادعا کرد که پاکستان در شش ماه آینده سقوط خواهد کرد.
وي در مصاحبه با روزنامه آمریکایي واشنگتن پست این مطلب را بیان کرد و افزود، پاکستان 173 میلیون نفر جمعیت و صد کلاهك هسته‌اي دارد و ارتش این کشور از ارتش آمریکا بزرگـتر است و القاعده کنترول دو سوم این کشور را در اختیار دارد.
وي تأکید کرد: آن‌ها یك دولت یاغي در درون دولت پاکستان هستند.
مشاور ارشد پترائوس خاطرنشان کرد: بحران اخیر مالي جهاني نیز مزید بر علت شده است و ما از یك تا شش ماه آینده سقوط حکومت پاکستان را خواهیم دید.

چهارشنبه 1388/2/2
* * * * * * * * * * * * * *

created 22nd April 2009

دا ثابته خبره ده چه پښتونستان به جوړ شي لیکن ظالم ،بیرحـــمه او ناولي پنجابي به د جهاني ویني زبیښونکي امپریالیزم په مستقیمه مرسته به ډیري پښتني ککري تر خاورو لاندي کړي او دا ستره قرباني به نه تنها پښتونستان ازاد او مستقل کړي بلکه د سندیش ، مهاجر دیش،تاریخي کشمیر او د لرغوني او لوي بلوچستان استقلال به هم د پښتونو د وینو د دي ستر او عظیم توفان په وجود کي را منځته شي.

هغه چه عالمان وایي

**کوهي مه کینه د بل سړي په لار کي**
**چیرته ستا به د کوهي پر غاړه لیار شي**

پنجاب او د هغه ناولو یارانو د شوروي له اشغال څخه ناوړه ګټه پورته کړه او کله چه په افغانستان کي د ملل متحد تر نظر لاندي د ملي روغي جوړي پلان د پرچمي – جهادي ګډي کودتا په نتیجه کي وران شو نو همدي بي همته کودتا چیانو د پنجاب په کمک ملي دښمن ماتونکي اردو ماته کړه او د وطن د تجزیي پلان یي عملي کاوه ، چه د وطن پرستو قواوو د مقاومت او قربانیو په نتیجه کي دا شوم او کرغیرن پلان شنډ شوه.

د افــــــغان ولس بد بختي او کړاونه له هغه وخته زیات شول چه
د افغانستان د شاهي بیکفایته رژیم د موجودیت په وجه له افغانستان څخه د انګریزي استعمار په زور او جبر جلا شوي خاوره ، کله چه د هند نیمي وچي خپله ازادي بیرته تر لاسه کوله لازم اقدام و نه شوي کولاي چه بیرته یي تر لاسه کړي، البته کوم قانوني وجه یي هم نه درلوده بلکه ډار او د قدرت د ساتلو په وجه د اشغالي خاوري د بیرته تر لاسه کولو لپاره اقدام ونه شوه. ځکه چه د شاهي کورني طلاي نیکه د لري پښتونخوا په زیاته خاوره تجارت کړي وه او ددي طلایي نیکه وروستي لمسي هم خپل کوښښ وکړ چه د ناولي نیکه په لاره پل <u>کیږدي لیکن مرګ یي پرده شه.</u>


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د نــــنني نړي ژوندي تاريخ دا ثابته کړه چه سرحدونه ( ازلي) ندي بلکه ټول سرحدونه د شوروي د سوپر پاور د سرحد پشان هم کولاي شي چه تغير وکي ،البته که څوک ايمان ولري او اقدام وکړي.

نن لري پښتونخوا د خپلو ارمانونو د تر لاسه کولو لپاره کمک ته اړتيا لري او دا کمک بايد پروني جهاديان او پخواني او نني طالبان او په مجموع کي د افغان ولس وکړي ترڅو د تل لپاره ددي ناولي سرطاني داني نه دا منطقه او جهان د تل لپاره ارام شي .

طــالب عملاً په جګړه کي بوخت دي خو هغوي بايد لومړي هغه سلاح او مهمات چه له پنجاب څخه يي تر لاسه کوي په پنجابيانو استعمال کړي نه پر افغان ولس ځکه افغان خاوره او اولس اوس د پرون پشان تر اشغال لاندي نده بلکه د ملل متحد تر قيموميت او سرپرستي لاندي دي.

پداسي حال کي چه د لري پښتونخوا ولسونه تر 60 زيات کلونه د پنجاب غلامي وکړه بالاخره چه په تنګ شول نو په جنګ شول او اوس بايد افغان مجاهد ولس له ماله نيولي تر سره پوري بايد ددي مقدس ارمان ، تاريخي ارزو او ملي ستر هدف ته د رسيدو لپاره له هيڅ ډول کمکونو څخه دريغ ونه کړي.

که جهادي رهبران او تجارتي قومندانان د عملي کمک ارزو نلري او يا هم د شمال د لعنتي ايتلاف ډله ټپله ددي کار خنډ کيږي نو بيا دا لازمه ده چه د ولسونو لياري بندي نشي، او ولس بايد پدي پوهه شي چه د ننګ او ناموس جګړه ده او دي مقدسي جګړي ته هر څوک چه په هره وسيله او هر رقم ځان او يا مال رسوي بايد مخه يي ونه نيول شي.

ټول ملي مترقي او په ازادي مين غورځنګونه ، ګوندونه او ډلي هم په خپل وار سره بايد د پښتونستان ددي ازادي ښنونکي جګړي څخه خپل ملاتړ اعلان او هغه بايد ازادي ښنونکي جګړه وګڼي ځکه چه د اشغال شوي خاوري خلګ ازادي ته ضرورت لري.

طالب جان هم بايد اول د اشغالي خاوري د بيا ازادولو لپاره ملاوتړي او بيا به وروسته د هغه قدرت لپاره چه په استعمال يي نه پوهيدل اقدام وکړي.

ځکه واي چه خر کاري هم هنر غواړي
او سياست هم علم ته اوهم هنر ته ضرورت لري

ترڅو چه موږ له تاريخي او ناولي دښمن څخه خلاص نه شوه زموږ په وطن کي به زموږ ډير زيات نسلونه د پنجاب او دهغوي د ګوډاګيـــــــــــانو په وجود کي د خواري ،بدبختي او کړاونو ژوند تير کړي او وران افغانستان به لا نور هم وران شي خو جوړ به نشي ځکه دافغان ولس سرسخت دشمن( پنچاب) قسم کړي چه د هغه ابادي به زموږ په وراني او بدبختي کي وي.

نو که د وطن له دښمن سره ټينګه مقابله وشي او ولسونه د پخوا په شان په ډولونو او اتـــن سره د اشغال شوي خاوري د ازادي په جګړه کي د واده د خوښي په شان په خوښي او مستي سره را ټول شي او د ګرمي جګړي او مقابلي لپاهره داهم ورسره زياته شي چه:

**که په پښتونستان کي شهيد نه شوي**
**افغانه وروره بي ننګي ته دي ساتينه**

ختم


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de